THE WORLD BANK
IBRD • IDA | WORLD BANK GROUP

**خبري اعلامیه**

---

## په افغانستان کې د فقر د لږوالي په موخه د نړیوال بانک ګروپ تګلاره تدوین شوه

*د افغانستان د پراختیايي لومړیتوبونو د ملاتړ لپاره د ۱۲۰ میلیون امریکایي ډالرو بسپنه مالي مرسته تصویب شوه*

**د ۲۰۱۶ کال د اکتوبر ۲۷مه، واشنګټن -** د نړیوال بانک اجراییوی مدیره پلاوي د افغانستان لپاره د ۱۲۰ میلیون امریکایي ډالرو بسپنه مالي مرسته د تصویب ترڅنګ، د ۲۰۱۷ تر ۲۰۲۰ کلونو لپاره یې د دغه بنسټ د مشارکت چوکاټ په ځرنګوالي خبرې اترې وکړې. ټاکل شوې چې د فقر د لږوالي په هکله د نړیوال بانک مالي ملاتړ په افغانستان کې د راتلونکو څلورو کلونو ( ۲۰۱۷ تر ۲۰۲۰ میلادي) لپاره د همدغې تګلارې له مخې وټاکل شي.

د دغه ۱۲۰ میلیون امریکایي ډالرو څخه ټاکل شوې چې ۱۰۰ میلیون ډالره یې د زیربنا او ټولنیزو خدمتونو په برخه کې ولږول سي، چې په هغه کې د هیواد په ټولو کلیوالي او څلورو لویو ښارونو کې شاوخوا ۳,۴ میلیون وګړو لپاره د څښاک اوبو ته لاسرسی او اړوند آسانتیا برابره شي. همدا راز پاتې ۲۰ میلیون ډالره د مالي سکتور د پیاوړتیا په موخه او په تیره بیا د افغانستان بانک د اداري وړتیاو د ښه کولو لپاره ځانګړي شوي دي.

*"ننۍ بحث د افغانستان لپاره د همکاریو د نوي مشارکت د چوکاټ او د تازه بسپنه مالي مرستې تصویب، خپله دا په ډاګه کوي چې نړیوال بانک د اوږد مهال لپاره له افغانستان څخه خپل ملاتړ ته ژمن دی،"* **د سویلي آسیا په حوزه کې د نړیوال بانک مرستیالي آغلی انیتا دیکسون** د دغه مطلب په څرګندولو سره زیاته کړه : *"مونږ لیوال یو چې د افغانستان له خلکو سره خپلو مرستو ته په هر اړخیزه توګه دوام ورکړو، ترڅو د ټولو افغانانو لپاره اقتصادي او ټولنیز شرایط ښه والی ومومي او میلیونه تنه وګړي په دغه هیواد کې د فقر له منګلو څخه وژغورل سي".*

د هیواد لپاره د مشارکت دغه چوکاټ په حقیقت کې د نړیوال بانک لپاره په افغانستان کې د فقر د کچې د ټیټوالی د هدف حصول کولو په موخه د تګلارې تنظیم کوونکی بلل کیږي، چې د افغانستان د ملي سولې او پراختیا له چوکاټ سره په نږدې تړاو کې جوړ شوی دی. د دغې تګلارې هدف دا دی ترڅو په افغانستان کې د عامه خدمتونو او خصوصي سکتور د ودې لپاره یو لړ پیاوړي او معیاري بنسټونو رامینځته شي. د دغه مشارکتي چوکاټ بل هدف دا دی ترڅو له یو داسې اقتصادي ودې څخه ملاتړ وشي چې د هغې په درشل کې د ټولو خلکو په ژوندون کې بدلون رامینځته شي او تمرکز یې په شاته پاتی سیمو، په ښارونو کې په غیر رسمي استوګنو او د کورني تاوتریخوالي له امله په بې ځایه شویو کډوالو وي.

د نوموړي مشارکت چوکاټ لپاره اړین مالي ملاتړ ټاکل شوې وروسته له هغه مشخص شي چې د روان میلادي کال په دسامبر میاشتې کې د نړیوال بانک د نړیوالې پراختیایي ادارې (IDA) د تمویل کوونکو غونډه ترسره شي. دا په داسې حال کې ده چې د دغه مشارکتي چوکاټ د تمویل لپاره د افغانستان د بیارغونې صندوق ( ARTF) مالي ملاتړ به هم د دغه صندوق د تمویل کوونکو لخوا هم په نږدی راتلونکې کې مشخص او بشپړ کیږي.نړیواله مالي اداره ( IFC) د نړیوال بانک د خصوصي سکتور څانګې  په توګه هوډ لري ترڅو د مشارکت د چوکاټ د لومړي پړاو د تطبیق په ترڅ کې د خپلې پانګې  اوسنې سقف له ۵۴ میلیون امریکایي ډالرو څخه ۸۰ میلیون ډالرو ته اوچت کړي. همدا راز د څو اړخیزو پانګونو د تضمین اداره ( MIGA) د نړیوال بانک ګروپ د سیاسي ګواښونو د بیمې کوونکې مټ په توګه ژمنه ده ترڅو د مالي ، صنایعو، کرهنیزو محصولاتو د سوداګر، خدماتو او زیربناو په سکتورونو کې د اړتیا وړ ملاتړیز بهیر ته پراختیا ورکړي.

"مونږ د دولت له هغه شمیر هڅو څخه ځانګړی ملاتړ کوو چې موخه یې د بې وځلو میرمنو، ماشومانو او مرستو ته د اړو وګړو په ژوندانه کې د مثبت بدلون رامینځته کول وي. دغه مرستې کیدلی شي چې روغتیایي او روزنیزو خدمتونو ته د خلکو متوازنه لاسرسي باندې تمرکز ولري، کیدلی شي چې په زیربناو کې پانګه اچونه وي او یا هم په کلیوالي سیمو کې

*استوګنو وګړو ته د کرهنې سکتور له لارې د معیشت او کارموندنې د فرصتونو او آسانتیاو برابرول واوسي.* **" په افغانستان کې د نړیوال بانک ګروپ مشر رابرت سام** د دغو خبرو په څرګندولو سره زیاته کړه: *"مونږ په افغانستان کې خپل ستراتیژیک مشارکت دوام ته ژمن یو، او زمونږ هڅه دا ده ترڅو له یوې خوا د کورنۍ ظرفیتونو د رامینځته کولو په برخه کې نړیوال پوهاوی او تجربې شریکې کړو او له بلې خوا د غوره حکومتولۍ لپاره د دولتي ادارو په پیاوړي کیدلو کې مرستې جاري وساتو".*

د افغانستان د ولسي تړون پروژې د لومړي پړاو د پیل لپاره د ۱۰۰ میلیون امریکایي ډالرو بسپنه مالي مرستې تصویب پروسه چې نن ترسره شوه، د نړیوال بانک د نړیوالي پراختیایي اداري لخوا تامین کیږي. د دغې پروژې ټولټال بودیجه ۶۲۸ میلیون امریکایي ډالره ده، چې سربیره د نړیوال بانک د نړیوالي پراختیایي اداري له ملاتړ څخه، د افغانستان دولت هم له خپلو کورني سرچینو څخه ۱۲۸ میلیون امریکایي ونډه واخلي، او پاتي ۴۰۰ میلیون ډالره به نړیواله ټولنه د افغانستان د بیارغوني صندوق له لیاري تمویل کړي. ټاکل شوي چې د ولسي تړون لومړئ پړاو به د راتلونکو څلورو کلونو په ترڅ کې تطبیق او شاوخوا ۵،۸ میلیون افغانان به د دغې پروژې د خدمتونو څخه برخمن شي.

د ۲۰ میلیون امریکایي ډالرو په ارزښت هڅونکي بسپنه مالي مرسته به د افغانستان د مالي سکتور وضعیت د چټک غبرګون پروژې د لاسته راوړنو د پراختیا او دوام په موخه او د افغانستان بانک د ظرفیت جوړوني او د مالي سیستم د ښه والی په موخه مصرف شي. د دغې بسپنه مالي مرستي تر ټولو ستر هدف دا دی ترڅو د افغانستان بانک قانوني او څارونکي ونډه په مالي سکتور کې نوره هم پیاوړې کړي.

په افغانستان کې د نړیوال بانک د فعالیتونو په هکله معلومات په لاندې ویب پاڼو کې ترلاسه کولئ شئ

http://www.worldbank.org.af

www.ifc.org

www.miga.org

www.artf.af